مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۳/۱۲/۰۷

# ناکامورا ووژل شو

## خو نوم یې، انسانیت ته د خدمت په کتاب کې ثبت شو

عبادت نه یواځې تســـــبیح وییل دي
پــه اوږو د ټول عالم بارونه وړل دي

ځلور کاله د مخه په کال ۲۰۱۹ کې د دسمبر په ځلورمه د افغانانو او عالم بشریت ستر خدمتګار او خواږی ډاکتر تیځوناکامورا د جلال آباد په ښار کې د خپلو پنځو تنو ساتونکو سره د یو ډله تور ضمیرو او خیرن ضمیر او باطن خاوندانو د ګاونډی استخباراتی کړیو له خوا ووژل شو ،د ده او د ده د ټولو ساتونکو ارواح دي ښاده وي دا مضمون ما د زړه له درده د ده په غمرازی کې په کال ۲۰۱۹ کې لیکلی وو،چې د ده له مرګه وروسته تر ننه پورې په ډیرو خپرونو کې خپورشوی، ځکه چې یو ادبی مضمون ته هم ورته وو،د ده روح دې د ټولو ساتونکو سره ښاد وي.

ناکامورا د ډیر لیرې وطن او ملک ځخه یعني د جاپان ځخه مساپر،د پښتنو وطن ته خدمت د پاره راغلی وو ،که څه هم د دې وطن د خلکو په ژبه بلد نه وو ،خو دخپل د صادقانه خدمتونو د تر سره کولو په واسطه یې د زمان په ډیر کم وخت کې، د خلکو په زړونو کې لار پیدا کړه ،او ډیر محبوب شو ،

په ښه خوی باندی تسخیر شي تمام زړونه
له بد خوی څخـــــــه پیدا شي ، نفرتونه

د سمسورتیا او بیا رغاونی یې ډیری افساني پریښودې ، چې نمونې یې ژوندی پرتې دي .نور خلک یې هم ډیر د کار د پاره وهڅول ،ده به په کراتو او بار بار د همت د درس ورکولو په خاطر و نورو ته ، بوجې ګاني به یې په خپل شاه واړولي او وړلي به یې په داسي حال کې چې ده ، د یو رییس په صفت کار کوو،او د خپلې موسسي رییس وو ،د ده په زرګونو تصویرونه چې په فیسبوکونواو میډیا کې خپاره شوي ،دی خړ پړ ګرد وهلی د کار په جامو کې ښیي ،تجملي لباسونو نه بیزاره ښکاریده ،ده چې کومې متې او پیڅي د کار د پاره بډ وهلي وي ، ډیر خلک یې تنبه او بیداره کړل ، ډیرو ته یې د خودی ټکان ورکړ ، دده په راتګ ډیر ځایونه ګلستان شول ،یو یو اغزی به یې د لارې څخه لیری کاوه او پرځای به یې ګلونه کرل ،زما د دې شعر په مصداق:

اغزن ماحول په ګلستان د معرفت شو بدل
د مصلحت قـــــدم چې هلته د دانا ورسید

د زمان په ډیر کم فرصت کې ،د ده صادقانه خدمتونه هم نه یواځې زمونږ خلکو ته بلکه ټوله نړی ته محسوس شول ،او دې خپل ځان و عالم بشریت ته د یو رښتنې خدمتګار په توګه وښوده ،او ښکاره یې کړ ،په دې ټول پوهیدل چې ډاکټرتیتسوناکامورا د دې وطن یو صادقه زړه سوانده خدمتګار دی ، نو له همدې وجهې خلکو ته ډیر ګران وو ، او خلکو ډیر نازاوه او خلکو به ورته له ډیره نازه کاکا مراد وییلي، د خلکو په زړونو کې یې دومره ځای نیولی وو چې، د عرفی د دې شعر په مصداق:

چنان با نیک و بد خو کن که بعد مردنت عرفی
مسلمانت به زمـــزم شوید و هندو بســـــوزاند



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د ده بی ترسه خدمت په دي لاره کي د اوږدو کلنو په دوران کي، په داسي نا مساعده شرایطوکي داسي وښوده ، چي غواړي لارې رڼا کړي خو که په ده هرڅه وشوه ، دی پرې پروا نه لري ،د صاحب شاه صابر د دي شعر په مصداق چي وايي:

**مونږ د ځان نه یو ، په ځان نه یو ، صابره**
**مونږ دې وسوځــو ،خو لارې دي رڼا شي**

د خدمتونو ښکاره نښه يي دا هم ده ،چي يو ځلي د افغانستان جمهور رييس ښاغلي اشرف غني ځان ته وباله ، او ډير يي تقدير کړ ،او دا د ده دوژلو څخه لړه موده دمخه وشوه ،او د ده د احترام د پاره ده ته لورينې په خاطر ده ته يي د افغاني تابعيت ورکړ ، کاشکي د دي کار سره د هماغي ورځي څخه د ده امنيت نور هم ټينګ نيول شوی وای ، خو زمونږ حکومت او چارواکو په ډير تأسف سره بايد ووايم ، چي هيڅ راز پاملرنه يي ونه کړه ، همدا وو چي څو ورځي وروسته د داکتر اشرف غنی د قدردانيو څخه د ده د خدمتونو څخه د خپل زړه سوانده او مهربانه پنځه تنه ساتونکو سره په جلال آباد کي د وطن د آبادی او سمسورتيا د دښمنانو له خوا ووژل شو ،د ده دا پلان وو چي د کنړ د سند اوبه مهار کړي ، او تر يو څه حده برېالی شوی هم وو ، خلک پرې ډير نازيدل او وياړ يي کاوه ،خو له بده مرغه د بی قدری او بی ارزی دنياګی ته راغلی وو ،

**بی ارزی نه دا ماحــول راته سور اور شو**
**لکه پروت چي په مجمر ، د سور انګار يم**
نادر

دي کار مونږ د جاپان سوله دوسته خلکو د پاره و شرمولو، د جلال آباد امنيت هم ډير زيات خراب وښودل شو ، او د ټولو خلکو اندیښنه زياته شوه ، چي په رڼا ورځ کي داسي يو سړی لکه غر راوپرځوی ، د دي دومره عظيم خدمتونو سره ، نور عادی خلکو خو هيڅ د ژوند تضمين نشته دی ، په پوره ګمان سره چي داکتر تيتسو نا کامورا د کنړ د سيند د اوبو په خاطر وژل شوي ، ځکه هغه نه غوښتل چي دا اوبه ضايع شي ، او د هغه کوشش دا وو ، چي دا اوبه مهار کړي ،او په دي ورځو او وروستيو کلنو کي ،د پاکستان (آی ،اس آی) دا هڅي وي ، چي زمونږ د بندونو د جوړولو خنډ وګرځي ،او يا بندونو د جوړولو د پاره خنډ جوړ کړي ،او دا کار زمونږ ګاونډی ايران هم کاوه ، او کوي يي ، د ده وژل يي د داسو کسانو په واسطه تر سره کړل ، چي د هغو ماغزه يي مينځلي وو ،دوی دومره د ځان نه غافل خلک ول ، چي د ناکامورا تر مرګ وروسته د دي لوی عالم او دنيا غبرګون ته به هم نه وي کتلي ، چي يواځي خو په دي فيسبوکونو کي څه حال دی ، چي سړی حيران شي نوره ميډيا خو پريږده ،آيا چي دا بی ضميره به ورته حيران شوي نه وي، او که نه ، ، د داسي بی ضميره او تور وجدان خاوندانو باندی دوي دا وژني تر سره کوي ، ولي که د لږ وجدان او ضمير خاوند وي ، چي د خلکو دا غبرګړن ته وګوري نو پښيمانه به شي ، دوي ته اوس دا هم جهاد ښکاري ، چي ما جهاد کړی ،علامه اقبال چي د شاعری او فلسفي افکارو په څنګ کي يو لوی عالم د دين هم دی ، نو داسي فرمايي:

**دين کافر فکر تدبيرو جهاد**
**دين ملا فی سبيل الله فساد**

خدای تعالی دي دي آدم رویه غولانو ته د حضرت بيدل په وينا يعني دي ، بی حاصلانو ته چي هيڅ ترې نه حضول کيږي ، يا پو هه ورکړي او يا نا ځاپه او ناګاهه مرګ لکه چي په دي بيت کي وايي:

**پُراست آفاق از غولان آدم رو ، چه ساز است اين**
**به اين بی حــاصلان يا دانشــي ، يا مرګ ناګاهی**
**بيدل**

په آخره کي ناکامورا ته دا ويبل غواړم ، آرام بيده سه ستا خر پر ګرد وهلی صورت به هيڅ وخت او هيڅکله د دردمنو د زړونو نه و نه وځي ،ستا ځای د دردمنو په زړونو کي دی ،

**د مذهب بنياد پرستو ، د انسان خونريزی بند کړئ**
**لوی مذهب انســـــانيت دی ، محبت لويه سجده ده**

زرين پريشان

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ